# د اسلامي نظام اقتصادي مسؤوليتونه




د علمي - څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه

د اسلامي نظام اقتصادي مسؤوليتونه

د علمي-څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه

## المسؤوليات الاقتصادية للنظام الإسلامي

## Economic Responsibilities of the Islamic System

ISBN 978-9936-672-04-8

2026

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د علومو اکاډمي**

**د اسلامي علومو معاونیت**

**د اسلامي بانکدارۍ او معاصرو مسایلو څېړنیز مرکز**

# د اسلامي نظام اقتصادي مسؤولیتونه

## د علمي – څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه

**کتنپلاوی:**

- څېړنپوه عبدالوهاب عابد
- څېړنپوه عبدالکریم فضلي
- څېړنپوه سید حبیب شاکر
- څېړنپوه عبدالولی بصیرت
- څېړنپوه نورالحق عزیزي
- څېړنوال مفتي عبدالحق حقاني
- څېړنوال مفتي محمد نبي المیداني
- څېړنوال مفتي نورمحمد محبي
- څېړنوال دوکتور عزیز گل صافی

**ځانگړتیاوې:**


**اهتمام:** نوماند څېړندوی شاه محمد موسی زی

**ایډیټ:** څېړنوال مفتي محمد نبي المیداني

**د سیمینار کال:** ۱۴۰۳ هـ.ش

**د چاپ کال:** ۱۴۰۴هـ. ش / ۱۴۴۷ هـ.ق

**د چاپ ځای:** ستارهٔ همت مطبعه، کابل - افغانستان

**خپرندوی:** د افغانستان علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست



**آدرس:** د افغانستان علومو اکاډمي، شاه بوبوجان کوڅه ، شهرنو، کابل

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکې شمیره :** ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست ایمیل:** info@asa.gov.af



**ISBN** : ۸- ۰۴- ۶۷۲- ۹۹۳۶- ۹۷۸



**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.**

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


د اسلامي بانکدارۍ او معاصرو مسائلو څېړنيز مرکز يادښت ............................ ۱
د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء پيغام.......................................... ۳
د ماليې وزارت پيغام ....................................................................... ۵
پيام سرپرست وزارت اقتصاد امارت اسلامی افغانستان....................................... ۱۱
د افغانستان بانک پيغام ..................................................................... ۱۸
د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق پيغام.............................................. ۲۲
په اقتصادي چارو کې د حکومتي مداخلې... / څېړنوال مفتي عبدالحق "حقاني" ...... ۲۵
حکمت عشر و زکات و نقش آن در ... / معاون سرمحقق مفتی نور محمد کورابی ....... ۵۷
د اسلامي اقتصاد ترويج او تطبيق، فرصتونه .../ څېړنوال مفتي محمد نبي الميداني ... ۷۷
نقش تمويلات کوچک در رشد اقتصاد کشور/ سرمحقق عبدالمعبود ضريری ...... ۹۷
په ټولنه کې د فقر د کچې راټيټولو لارې چارې/ سرطيب پارسا عبدالرحيمزی .. ۱۲۹
حمايت از توليدات داخلی در روشنايی اقتصاد اسلامی/ محمد روکی محمدی . ۱٦۷
د اسلامي فقهې له نظره د نرخونو په کنټرول.../ څېړندوی محمد کريم اديب ... ۲۰۱
له کورنې توليد څخه د اسلامي اقتصاد ملاتړ/ محمد طاهر لاروی ................ ۲۳۰
د اسلامي نظام اقتصادي مسؤوليتونه د سيمينار پرېکړه ليک ................ ۲٦۰

# د اسلامي بانکدارۍ او معاصرو مسائلو څېړنيز مرکز يادښت

الحمد لله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين، وبعد:

په اسلامي نظام کې حاکم او رعيت يو پر بل ځانګړي حقوق او مسؤوليتونه لري، هر لوری بايد کوښښ وکړي چې دا حقوق او مسؤوليتونه سرته ورسوي، د اسلامي نظام له مهمو مسؤوليتونو څخه يو دا دی چې په خپل قلمرو کې د دا سې معاملاتو په کلکه مخه ونيسي چې سود، غرر، قمار، يا نور فا سدوونکي عناصر په کې وي.

ا سلامي نظام بايد د ناجائزو معاملاتو په منع کولو سره، هغو معاملاتو ته د تطبيق زمينه برابره کړي چې شريعت سره همغږي وي څو د هېواد اقتصاد له ځنډ يا خنډ سره مخ نه شي.

په همدې هدف په ١٦/٥/ ١٤٤٣ هـ ق کال / ٢٩/ ٩/ ١٤٠١ هـ ش د افغانستان اسلامي امارت د وزيرانو شورا لخوا د علومو اکاډمۍ په چوکاټ کې د ا سلامي بانکوالۍ او معاصرو مسائلو څېړنيز مرکز، تشکيل شو چې د ا سلامي اقتصاد، بانکوالي او معاصرو مسائلو په اړه علمي تحقيقات ترسره کړي، اقتصادي، تجارتي او د بانکونو اړوند قوانين، لوائح او لارښودونه جوړ او په يادو برخو کې اسلامي امارت ته مشورې ورکړي، اسلامي امارت خپلو اقتصادي مسؤوليتونو ته د متوجه کولو په هدف ياد مرکز "د اسلامي نظام اقتصادي مسؤوليتونو" تر عنوان لاندې علمي سيمينار په ٢٧/ شعبان/١٤٤٦ هـ ق / ٨/ حوت / ١٤٠٣ هـ ش نېټه دائر کړ.

د سیمینار په ترڅ کې، د اقتصادي چارو د ښه تنظیم، په ټولنه کې د بې وزلۍ د کچې راټیټولو، د اسلامي اقتصاد ترویج، تطبیق او فرصتونو، د سترو پروژو اقتصادي اهمیت او د تمویل لارو چارو باندې مفصلې او مدللې مقالې ولیکل شوې، دغه راز د نرخونو کنټرول، پولي ثبات، د بیت المال د مواردو او لګښتونو په اړه د اسلامي امارت مسؤولیتونه په ګوته شول او په اقتصادي چارو کې د امارت د مداخلې په برخه کې مفیدې مشورې او وړاندیزونه وړاندې شول.

یاد سیمینار ته " د اسلامي بانکدارۍ او معاصرو مسائلو څېړنیز مرکز" د علمي اعضاوو او له مرکز نه بهر محققینو له خوا په مجموعي توګه (۳۱) مقالې لیکل شوې وې، چې ورڅخه نهه (۹) مقالې د سیمینار او چاپ لپاره د معیارونو د پوره کولو وروسته انتخاب شوې او دا دی ټولګه یې ستاسې حضور ته وړاندې کیږي.

په پای کې دا مرکز د اسلامي علومو معاونیت له علمي اعضاوو او د اسلامي بانکوالۍ او معاصرو مسائلو مرکز له ټولو محترمو غړو څخه د زړه له کومې مننه کوي چې د سیمینار په ترتیب، تنظیم او په بریالۍ توګه دائرولو کې یې هېڅ راز همکاري او مرسته ونه سپموله، د الله جل جلاله له دربار څخه ټولو ته ستره بدله او لا موفقیتونه غواړو.

درنښت

د اسلامي بانکوالۍ او معاصرو مسائلو څېړنیز مرکز

# د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء پيغام

الحمد لله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته**

اسلامي نظام د خپل رعيت پر وړاندې او رعيت د اسلامي نظام په وړاندې ځانګړي حقوق، مکلفيتونه او مسؤوليتونه لري. د افغانستان اسلامي امارت چې د افغان مؤمن ولس د څو لسيزو جهاد او قربانيو محصول دی، لکه څنګه چې د اسلامي شعائرو لوړتيا او ساتنه خپل مکلفيت ګڼي دغه راز د ولس اقتصادي پرمختګ، له فقر او احتياجه خلاصون او ولس ته د کار او رزق موندلو د فرصتونو برابرول خپل مهم مسؤليتونه بولي.

په همدې اساس اسلامي امارت د حاکميت له لومړۍ ورځې لکه څنګه چې د هيوادوالو ځاني او مالي امنيت، دغه راز فکري او عملي اصلاح ته متوجه دی، د هيواد د ويجاړ اقتصاد وده، د زيربناوو ودانول، د هيواد خودکفا کول او له فقر او احتياجه د ولس نجات هم د مهمو اهدافو په حيث تعقيبوي.

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصادي ودې په موخه په بيلابېلو سکتورونو کې د پام وړ اقدامات کړي. د اوبو د مديريت، د زراعت پراختيا او انکشاف، د موا صلاتي لارو جوړولو، د معادنو ا ستخراج، د انرژۍ د توليد، عامه خدماتو، دغه راز د تجارت او صنعت په برخه کې يې مهم پلانونه په کار اچولي او د خپل توان په اندازه يې د پام وړ هڅې کړې دي.

اما دغه اقدمات کافي نه دي. افغانستان چې اوږدو جګړو ځپلی، د نورې

نړۍ په نسبت د پرمختګ له کاروانه وروسته پاتې دی. دغه حالت موږ باید دې ته وهڅوي چې د هیواد د خودکفایي، اقتصـادي پرمختګ او له سـیالانو سره د هیواد او ولس د سـیال کولو لپاره شـپه ورځ کار او زیار وکړو، او د تېرو کلونو وروسته پاتې والی جبیره کړو.

د هیواد موجوده شرایطو ته په پام سره (د اسـلامي نظام اقتصـادي مسـئولیتونه) تر عنوان لاندې سـمینار جوړول یو د قدر وړ او پرځای اقدام دی. له فرصت نه په استفادې په ټولو علماء کرامو، محققینو، څېړونکو او د اقتصاد د برخې متخصصینو باندې غږ کوم، چې د دې مهمې موضوع په اړه بشپړ تحقیق ترسره او پـایلې یې لـه مسـؤلینو سره شریکې کړي. دغـه راز د لـه موجوده اقتصادي فرصتونو څخه د سمې استفادې په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه هم ارائه کړي تر څو د هیواد او ولس د پرمختګ په لاره کې ترې کار واخیسـتل شي. هغه څېړنې او تخصـصي- نظریات چې د لیکنو په بڼه په دې سـمینار کې وړاندې کیږي، د دې لپاره چې ګټه یې عامه شي باید په کتابي بڼه چاپ او اړوندو مراجعو سره شریک شي.

په پای کې د ا فغانستان د علومو اکاډمي لـه مـشرتابه او ټولو منسوبینو منـنه کوم چې دغه سـیمینار یې دائر کړی دی، دغه راز له هغو لیکوالانو او څېړونکو هم منـنه کوم چې دې سـیمینار ته یې علمي مقالې لیکلي دي. الله جل جلاله دې ټولو ته کامل اجرونه ورنصیب کړي، آمین.

والسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

الحاج ملا محمد حسن آخند

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء

# د ماليې وزارت پيغام

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد، وعلى اله وأصحابه أجمعين.

﴿مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡيَتَٰمَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينِ وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِ كَىۡ لَا يَكُونَ دُولَةَۢ بَيۡنَ ٱلۡأَغۡنِيَآءِ مِنكُمۡۚ﴾ [الحشر: ۷]

تر هر څه د مخه ټولو علماء کرامو، علمي، فرهنګي او ټولنيزو شخصيتونو، محترمو استادانو، څيړونکو، د افغانستان د اسلامي امارت د کابينې غړو، د ا مارت د مختلفو وزارتونو او ادارو استازو، قدرمنو ميلمنو او د دې کنفرانس تنظيموونکو ته!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

ښه راغلاست.

ثانياً، د افغانستان علومو اکاډمي ته د ا سلامي نظام اقتصادي مسئووليتونو تر سر ليک لاندې د ارزښتناک کنفرانس د جوړولو مبارکي وايم او ورڅخه د زړه له کومې مننه کوم، دا يو ډېر مهم بحث دی، ځکه چې اسلامي اقتصاد نه يوازې د فردي معيشت تأمين ته ژمن دی او نه هم يوازې د مالې نظم يوه تګلاره ده، بلکې د ټولنيز عدالت، هوساينې او پرمختګ يو بشپړ نظام دی.

الله عزوجل په قرآن کريم کې، د يوسف عليه السلام له لوري په حکومتي خزانه کې د ځان ګمارنې د خبرې تذکره کړې: ﴿قَالَ ٱجۡعَلۡنِى عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلۡأَرۡضِۖ إِنِّى حَفِيظٌ عَلِيمٞ﴾ [يوسف: ۵۵]

ترجمه: هغه وویل: ته ما د ځمکې په خزانو باندې مقرر کړه، بېشکه زه ښه ساتونکی، ښه پوه یم.

یو سف علیه السلام په دې برخه کې ښه په ډاډ سره وایي چې زه ښه پوه او ساتونکی یم او دغه خزانه به په اغیزمن ډول په خلکو وویشم، همغه وو چې د مصر د حاکم له لورې ورته د خزانې ستر مسئولیت وروسپارل شو.

د الله عزوجل خوږ پیغمبر یوسف علیه السلام هم وکولی شو چې د مصر او سیمې خلک له وچکالیو، فقر او قحطۍ څخه وژغوري او خلک د ټولنیز رفاه او هوساینې په لور یوسي.

ښاغلیو!

د اسلام په مقدس دین کې سود، احتکار او انحصار ناروا او حرام ګڼل کیږي، ځکه چې دا اعمال د ټولنیز نابرابرۍ او ګډوډۍ سبب ګرځي. په اسلامي نظام کې اقتصاد یوازې د تولید او عوایدو د لوړولو پورې محدود نه وي، بلکې اساسي موخه یې د اقتصادي عدالت تأمین، ټولنیزه هوساینه او دوامداره پرمختګ دی.

له همدې امله، اسلامي امارت مسئولیت لري چې خپلې اقتصادي او مالي پالیسۍ د اسلامي اصولو او شرعي مقاصدو په رڼا کې طرحه او پلي کړي. د مالیې په نظام کې باید داسې میکانیزمونه وکارول شي چې د شتمنۍ عادلانه ویش تضمین کړي او ټولنیزې طبقې سره نږدې کړي.

په عادلانه توګه د عوائدو راټولول د زکات، صدقاتو، لګښتونو سمه اداره او د کمزورو قشرونو ملاتړ هغه تدابیر دي، چې د دې موخو ترلاسه کولو لپاره غوره شوي دي.

مونږ هڅه کوو، بډایه خلک او پانګوال تشـــویق کړو، چې نه یوازې زکات ورکړي بلکې د ټولنیزو او اقتصـــادي پروژو ملاتړ هم وکړي او د دوی پانګونه د ټولنې د اقتصـــادي نابرابرۍ د کمولو او د ټولنیزې هوســـاینې د لوړولو لپاره وکاروو.

د هیواد طبیعي سرچینې یو امانت دی، چې باید په سمه توګه اداره شي، په بنســـټیزو پروژو پانګونه، د کانونو اغیزمنه کارونه، انرژۍ او اوبو ته ځانګړې پاملرنه د اســلامي امارت له مهمو مســئولیتونو څخه دي، دا منابع باید داســې مدیریت شي، چې راتلونکي نسلونه هم ترې ګټه واخلي.

د بیت المال په مصرـف کې امانتداري د اســـلامي امارت له مهمو مسئولیتونو څخه ده. ټول عوائد او لګښتونه باید په شفاف ډول مدیریت شي او د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره وکارول شي.

مالي فســاد، اسراف او د ملي منابعو ناوړه اســتفاده، یو ســالم اقتصــاد ته ســخت زیان رســوي، له همدې امله هڅه کیږي، چې شــمتنې په عادلانه توګه راټولې او وویشل شي او همدارنګه د حساب ورکونې شفافیت او مالي اصلاحاتو له لارې د خلکو اعتماد پر اسلامي امارت لا پیاوړی شي.

قدرمنو ګډونوالو!

د مالیې وزارت د افغانســـتان د اســـلامي امارت په چوکاټ کې د یو مهم اقتصـادي ســکتور په توګه په نړدې څلورو کلونو کې په اقتصـادي او مالي برخو کې د پام وړ کړنې ترسره کړي دي او هڅه یې کړې چې د مالیاتو، عوائدو او ګمروکونو برخې له فســـاد څخه پاکې کړي او له اداري فســـاد او غیر اســـلامي اقتصاد څخه لرې سالمې ادارې لپاره زمینه برابره کړي.

چې یو څو کړنې یې د مثال په توګه لاندې بیانوو:

✓ په تیرو وختونو کې به د هیواد بودیجه تر ډیره حده د بهرنیو سرچینو پر مټ ولاړه وه، خو د ا سلامي امارت له فتحې ورو سته د افغانستان د ا سلامي امارت د اقتصادي پالیسۍ پر بنسټ چې په کورنیو منابعو او د ملي اقتصاد په پیاوړتیا تمرکز کوي، نور نو بودیجه په بهرنیو مرستو نه ده ولاړه.

له بلې خوا اسلامي امارت د بهرنیو مرستو پر ځای د سیمې او نړۍ هیوادونو سره په ځانګړې توګه دوه اړخیزو اقتصادي اړیکو او همکاریو ته لومړیتوب ورکوي، تر څو له دې وروسته بهرنیو مرستو ته اړتیا پیدا نه شي.

باید یادونه وکړم، چې لا هم اوږده لار په مخکې لرو، خو ان شاء الله د اسلامي امارت د پراختیایي موخو د پلي کیدو سره به په نږدې راتلونکې کې د اقتصادي ځان بساینې په لور ګام پورته کړو.

✓ د مالیې وزارت د مالیاتي چارو د اسانتیا او پانګونې د هڅونې په موخه د مالیاتي سیستم اساسي اصلاحات عملي کړي دي، له دې اقداماتو څخه ځینې دا دي:

- د پخوانیو مالیاتي جریمو معاف کول؛
- د اصنافو او کسب ګرو لپاره د ثابتې مالیې کمول چې له (۱،۵) سلنې څخه (۰،۵) سلنې او بیا (۰،۳) سلنې ته راښکته شوې؛
- د پلورونو (فروشاتو) د مالیاتو د معافیت حد په یو سل او پنځوس زرو افغانیو څخه دوه میلونو افغانیو ته لوړول.

✓ د اساسي سکتورونو د ملاتړ په موخه، خصوصي معارف ته انتفاعي مالیه معاف شوه، تر څو دا سکتور وکولی شي، له لږو لګښتونو سره خپل

فعالیت ته دوام ورکړي.

- ✓ په روغتیایي سکتور کې انتفاعي مالیه له ۴ سلنې څخه ۳ سلنې ته راکمه شوې ده او نوي روغتیایي مرکزونه به په لومړي کال له مالیې معاف وي، په دویم کال کې به ۲ سلنه او له هغه وروسته به ۳ سلنه مالیه ورکوي.
- ✓ همدارنګه د هوټل دارۍ سکتور لپاره انتفاعي مالیه له ۵ سلنې څخه ۲ سلنې ته راښکته شوې ده، تر څو د دې صنعت وده چټکه شي.
- ✓ د کورني تولید د پیاوړتیا او د استخدام د زیات والي په موخه د صنعت سکتور لپاره انتفاعي مالیه له ۴ سلنې څخه ۲ سلنې ته راټیټه شوې ده.
- ✓ د صنعتي سوداګریزو او کرنیزو سکتورونو لپاره ۷ سلنه قراردادي مالیه لغوه شوې، تر څو عملیاتي لګښتونه راکم او پانګونه ډیره شي.

**درنو حاضرینو!**

دمالیې وزارت نږدې څلورو کلونو کې په مالي او اقتصادي ډګر کې په ځانګړې توګه د هیواد ملي عوایدو په راټولوو، د عامه لګښتونو مدیریت او د پیسو د ثابت ارزښت په ساتلو کې په بریالیتوب ځلیدلی دی او هیله لري چې په راتلونکي کې هم په هر اړخیز او اساسي پلان سره په هیواد کې اقتصادي ستونزې راکمې کړي، عاید راوړونکې پروژې مشخصې او تمویل کړي او همدارنګه د خصوصي، امارتي او نړیوالو بنسټونو په همکارۍ نوي فرصتونه رامنځته کړي.

د مالیې وزارت باور لري چې هر ډول علمي ناستې او کنفرانسونه چې وکولی شي د افغانستان د خلکو د اقتصادي ودې لپاره اسانتیاوې برابرې کړي، په خصوصي حوزو کې باسواده او لوستي ځوانان په کار وګماري، د بیکاره او

يې وزلو خلکو لپاره شـغلي فرصـتونه چمتو کړي؛ يقيناً چې د ماليې د وزارت او نورو امارتي بنسټونو او په ټوله کې د افغانستان د اسلامي امارت د رهبرۍ لخوا ملاتړ کيږي.

د افغانسـتان د اسـلامي امارت شـته اسـانتياوو او امکاناتو ته په کتو دغه کنفرانس له لارې اعلان کوي چې مونږ په خپل ټول قوت سره د ملي او نړيوالو پانگوالو ملاتړ کوو او د خصـــوصي نهادونو پانگوالو ته په بيلا بيلو برخو کې د پانگونې لپاره هر ډول لازم فرصتونه برابروو.

له دغه کنفرانس څخه ترلاسه کيدونکې څېړنيزې پاليسۍ به د ماليې وزارت له لورې د اړوندو پاليسيو په تدوين او طرحه کې وکارول شي.

دا غونډه د يوه علمي بحث په توگه زمونږ د وخت يوه بې سـاري خزانه ده چې سره راټول شو او د يوه مخ پر ودې اقتصاد په اړه فکر وکړو ترڅو افغانستان پر ځان بسيا شي.

او په پای کې زه هيله لرم چې دا کنفرانس به د اسـلامي اقتصـادي مسؤليتونو په روښانولو، د نوي مالي نظام په ايجاد او د شريعت احکامو مطابق د اقتصـادي پراختيا په رامنځته کولو کې رغنده رول ولوبوي. او هغه نظريات او پاليسۍ چې د دې کنفرانس څخه ترلاسـه کيږي د ماليې وزارت له لوري سره شريک کړي.

والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

# پیام سرپرست وزارت اقتصاد امارت اسلامی افغانستان

## الحاج قاری دین محمد حنیف

**الحمدلله رب العالمین، والصلاة والسلام علی رسوله الأمین؛ اما بعد:**

دانشـمندان! محققان و اشـتراک‌کنندگان محترم در سـیمینار علمی - تحقیقی مسئولیت‌های نظام اقتصادی اسلام!

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**

خداوند متعال را نهایت سپاسگزاریم که ما را در مسیر بررسی و تحقق اصول نظام اقتصادی اسلام توفیق عنایت کرده است تا پیرامون مسألۀ مهمی، محققان خویش وادار به تحقیق و واکاوی مسئولیت‌های نظام اقتصادی ا سلام نماییم، از تراوش قلم واندیشۀ محققان ورزیدۀ کشور و تولید مقالات ارزشمند و محققانۀ ایشـان در جهت حل مسـائل علمی، و اجتماعی و اقتصـادی و تدوین پالیسی‌ها، واستراتیژی‌ها و طرح‌های کلان ملی، در سطح نظام استفاده کنیم.

ار این‌رو، از ابتکار عمل اکادمی علوم افغانسـتان و دسـت‌اندر کاران ایشـان، به ارتباط به راه‌انداختن چنین کنفرانس ارزشـمند تحقیقی، صـمیمانه تقدیر و تشـکر می‌کنم و برای محققان و اندیشـمندان کشـور، آرزوی موفقیت و سـلامتی و دسـتاورد های خوب در جهت تولید وتوسـعۀ علم و دانش در سـطح کشور را دارم.

**محققان محترم!**

تحقیق وپژوهش به مثابۀ استخوان‌بندی برنامه های توسعۀ جوامع بشری به شـمار می آید، میزان توجه دولت‌ها به این مسـأله وبودجه‌ای که بدان

اختصاص داده می شود، از شاخص های اصلی توسعهٔ اقتصادی محسوب می گردد. مسـألهٔ تحقیق وکارهای پژوهشـی در کشـور ما از جایگاه وارزش نسـبتاً خوبی در سـال‌های اخیر بر خوردار بوده اسـت که باید برای حل مسـائل و مشـکلات موجود در حوزه های مختلف از محققان با درایت کمک گیریم تا بتوانیم میان نهادهای علمی و اداری، پل ارتباط مطمین ایجاد کنیم و به این شکل به بخشی از مشکلات اساسی کشور انگشت گذاشته، برنامه های علمی و فنی، تدوین کنفرانس های علمی – تحقیقی و طرح های مبتنی بر تحقیقات روش‌مند، بهرهٔ اقتصادی ببریم تا مسایل بر مدیران اجرای کشور روشن گردد که روی‌هم‌رفته، جریان تحقیق و هم محققان ارزش‌مند ، قدرت، منزلت و جایگاه در خورشـأن خویش را در یابند و مشـکلات کلان کشـوری از این ناحیه حل گردد.

**استادان معزز و گرامی!**

وقتی از مسئولیت‌های نظام اقتصادی اسلام سخن میگویم، **اینجا بحثی از نظام های مادی نیست** بلکه منظورما، نظام اقتصادی اسلام است.

نظام اقتصـادی اسـلام؛ یک نظام جامع مبتنی بر اصـول و ارزش‌های متعالی اسـت که بر پایهٔ عدالت، برابری، تعاون و توازن اجتماعی اسـتوار می‌باشـد. در میان مسـایل مورد ابتلای جامعه، مسـأله‌ای که امروز از اهمیت ویژه‌ای برخوردار اسـت، مسـایل اقتصـادی اسـت. اقتصـاد برای همه جوامع و کشورها دارای اهمیت و ارزش است، به این دلیل که برای همه آن‌ها ملموس و محسوس می‌باشد وخود را به آن بیشتر درگیر می کنند.

بدون تردید؛ تحقیق وبررسـی روی مسـئولیت‌های نظام اقتصـادی اسـلام

یک امر بسیار مهم وضروری می‌باشد. به خاطری که تا اکنون نظام‌های دیگری در جهان حاکم بوده است که نوبۀ خود، هر کدام به تجربه گرفته شده‌اند که نقایص مشکلات زیاد را به همراه داشته است؛ یعنی هرنوع تشبث وبهره کشی به کشورهای پس از جنگ و جهان سومی را روا داشته و به همین دلیل کشورهای جهان سوم از کاروان توسعه و انکشاف اقتصادی به دور بمانند که کشور عزیز ما نیز از این چالش مستثنی نبوده است.

**دانشمندان محترم !**

نظام اقتصادی اسلام را می‌توان یگانه سیستم اقتصادی پویا و عالادنه در نظر داشت که می‌توان به وسیلۀ آن در جهت کاهش فقر، تأمین رفاه عامه و تعالی اخلاقی و معنوی جامعه امید بست.

نظام اقتصاد اسلام افزون بر رفاه عامه، تولید، توزیع و مصرف به صورت عادلانه، جلوگیری از احتکار، ربا و اسراف بی‌رویه از منابع را در نظر داشته وبه تعالی اخلاقی معنوی افراد نیز توجه دارد و هدفی فراتر از اهداف مادی را دنبال می‌کند. اهمیت و ارزش نظام اقتصادی اسلام را می‌توان با توجه به ضرورتی که به آن وجود دارد، روشن‌تر بیان کرد و این نظام بر عکس نظام‌های سرمایه‌داری وسوسیالیستی مبتنی بر اصول چون:

۱- اصل مالکیت مختلط ( عمومی، دولتی و خصوصی)؛

۲- اصل آزادی اقتصادی د رچهارجوب محدود؛

۳- واصل عدالت اجتماعی است؛ یعنی نظام اقتصادی اسلام بر خلاف نظام‌های دیگر ، بر عدالت اجتماعی، حمایت از فقرا و بی‌نوایان، استقلال و اقتدار اقتصادی و به سعادت بشر در دنیا و آخرت تأکید نموده است.

**اشتراک کنندگان گرامی !**

مسئولیت‌های نظام اقتصادی اسلام جهات مختلفی را شامل می‌شود که ممکن دانشـمندان و محققان در این سـیمینار علمی – تحقیقی به آن مباحث کلی به صورت محققانه بپردازند وپهلوهای نامکشوف این مسأله را بشگافند و به طور دقیق و کارشناسانه آن را مورد غور بررسی قرار دهند؛ اما اینجا **– من به عنوان وزیر اقتصـــاد کشـــور-** چند مورد را به گونۀ فشرـده وگذرا به ارتباط مسئولیت‌های نظام اقتصادی اسلام اشاره می کنم:

**نخســتین مورد از مســئولیت‌های نظام اقتصــادی اســلام**، حاکمیت الهی است؛ یعنی اساس نظام اقتصادی اسلام را حاکمیت مطلق الهی تشکیل می‌دهد که همه قوانین و تعاملات اقتصادی باید بر محور و مبنای این شاخص شکل گیرد؛

**دوم**؛ از مهم‌ترین مسئولیت‌های نظام اقتصادی ا سلام، برقراری عدالت و رفع تبعیض‌های اقتصـادی می باشـد که خه از طریق زکات، انفاق، صـدقات ، بیت المال و توریع عادلانه ثروت و منابع تحقق می‌یابد؛

**سـوم**؛ **حمایت از تولیدات وکسـب و کار حلال**؛ کسـب روزی و توسـعه تجـارت حلال، ترویج کـارآفرینی مبتنی بر ارزش هـای اســلامی مبـارزه بـه بهره‌کشـــی اقتصـــادی یک طرفه، از اهداف بنیادین نظام اقتصـــادی اســـلام می‌با شد که رسول گرامی ا سلام – صلی الله علیه وسلم – راجع به اهمیت آن چنین ارشاد فرموده است:

« طلب کسب الحلال الفریضة بعد الفریضة »

( پس اؤ انجام فرایض الهی (نماز و روزه) به دســت آوردن یا طلب کســب

رزق حلال فرض می‌باشد.

**چهارم؛ مبارزه با ربا و معاملات غیرشرعی**؛ یکی دیگر از مسئولیت‌های اساسی نظام اقتصادی نظام اسلام می‌باشد، جلوگیری از بهره (ربا)، قمار احتکار و سائر معاملات غیرشرعی که باعث بروز فساد و بی عدالتی در جامعه می گردد؛

**پنجم**؛ رفاه عمومی و تأمین نیازهای اساسی جامعه از شاخص های نظام اقتصادی اسلامی است که تنها به رشد فردی تأکید می‌ورزد؛ بلکه بر رفع فقر، تأمین معاش عادلانه و حمایت از طیف‌ها و اقشار آسیب‌پذیر جامعه تأکید می کند؛

**ششم؛ مسئولیت نظام اقتصادی اسلام تنظیم بازار**؛ جلوگیری از احتکار و انحصار، حمایت از مستضعفین واجرای سیاست ها ، استراتیژی‌ها وطرح‌های بزرگ اقتصادی بر مبنای شریعت اسلام می‌باشد که باید در این سیمینار علمی – تحقیقی بیشتر از پیش مورد توجه محققان واندیشمندان عزیز قرار گیرد؛

**هفتم؛ نقش اخلاق و ارزش های اسلامی**؛ نظام اقتصادی اسلام تنها جنبه های مادی را در نظر ندارد؛ بلکه در جنبه های چون؛ صداقت، تقوا، وامانت‌داری، انصاف و رعایت حقوق دیگران نیز اهتمام می‌ورزد.

**حضار محترم !**

جهان امروز به بهران‌های کلان اقتصادی، سیاسی و اجتماعی روبه روست، تطبیق و اجرا ساختن نظام اقتصادی اسلام می‌تواند راه حل معقول و پایدار برای ایحاد تعادل، رفاه و عدالت بر جامعه ارایه دهد. چون نظام

اقتصـــادی اســـلام با هدف ایجاد یک جامعه عادلانه و پایدار، اهداف را دنبال می‌کند که به تحقق عدالت اجتماعی، حمایت از نیازمندان و تأمین رفاه عمومی منجر می‌گردد. این نظام بر خودکفایی اقتصـــادی تأکید می‌ورزد و تلاش می‌کند که تا با تقویت و رشـــد تولیدات باکیفیت داخلی، جامعه را از وابستگی به کشور های بیرونی و انزوای اقتصادی رهایی بخشد. در کنار آن؛ توجه به توسعهٔ پایدار و استفادهٔ مسئولانه از منابع طبیعی نیز از اهداف کلیدی نظام اقتصـــادی اســـلام اســـت که با حفظ تعادل میان پیشرفت اقتصـــادی ومسئولیت های اجتماعی کمک می‌کند.

پس از **روی کارآمدن امارت اســـلامی، الحمدلله افغانســـتان به یک نظام اسـلامی دسـت یافته** که این نظام وظیفه و مسـئولیت دارد که در اکثر بخش‌های حکومت داری، به‌ویژه در بعد اقتصادی، اصول و ارزش‌های اسلامی را محور برنامه‌ریزی‌های کلان اقتصادی خویش در سطح ملی قرار دهد تا نظام اقتصادی کشور بر مبنای عدالت، خودکفایی و توسعهٔ پایدار استوار گردد.

ما در وزارت اقتصـــاد متعهد و باورمند به این هســـتیم که تنها چیزی که می‌تواند کشور ما را از اتکا به جهان نجات دهد، رشد تولیدات باکیفیت داخلی وطن، بلند بردن صـــادرات و کاهش واردات، رشـــد زراعت ومالداری، مدیریت منابع آب و بهره‌برداری درست از منابع طبیعی، جمع‌آوری مناسب عشر و زکات و... می‌باشد.

ما از همه طرح‌های ســـازنده و معقول دانشـــمندان و محققان کشـــور در حوزهٔ اقتصـــادی اســـتقبال می‌کنم و إن شـــاءالله که تدویر این کنفرانس و ارائه مقالات علمی - تحقیقی، بکر و تازه، فرصـــت ها وزمینه های خوبی را برای

برنامه‌ها و تحقیقات بعدی فراهم بسازد و شاهد پیشرفت‌های خوبی در توسعه و تولید دانش باشیم.

در پایان، از تمام محققان دلسوز و متعهد کشور، علما وکارشناسان مسلکی و صاحبان طرح و پلان، دعوت می‌کنم که در این سیمینار علمی – تحقیقی با ارائه تحلیل های علمی و تخصصی خویش، ما را در درک بهتر و اجرای نظام اقتصادی اسلام یاری رسانده تا بتوانم همه باهم در ساختن پایه‌های نظام اسلامی سهیم باشیم وکشور خویش را از حالت مصرفی به تولیدی در بیاوریم تا بتوانیم روی پای خویش بایستیم .

به امید توسعه وشگوفایی کشور و به آرزوی رسیدن به عدالت، استقلال و اقتدار اقتصادی.

((وما توفيقي إلا بالله عليه توكلت وإليه أنيب))

**الحاج قاری دین محمد حنیف**

**سرپرست وزارت اقتصاد**

۲٤ شعبان المعظم ۱٤٤٦هـ ق مطابق ۵ حوت ۱٤۰۳هـ ش

کابل، افغانستان

## د افغانستان بانک پیغام

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓاْ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾ [البقرة: ۲۷۸]

**وبعد:** له هر څه نه وړاندې تاسو ټولو قدرمنو مشرانو او راغلو میلمنو ته **السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

د افغانستان د علومو اکاډمۍ له لوري (د اسلامي نظام اقتصادي مسؤلیتونو) تر عنوان لاندې د علمي څېړنیز سیمینار دایرول یو ارزښتناک گام دی چې د اسلامي اقتصاد اصول روښانوي او د هیواد اقتصادي ثبات، پر ځان بسیاینې او متوازنې پرمختیا لپاره اړینې علمي نظریې وړاندې کوي. د افغانستان بانک د هیواد د مرکزي بانک په توگه د دې علمي اقدام هرکلی کوي، او د علومو اکاډمۍ له دې ارزښتناک اقدام څخه منندوی ده، ځکه چې دا ډول علمي پروگرامونه د اسلامي مالي سیستم د ودې، پیاوړتیا او د اقتصادي پالیسیو د مؤثر تطبیق لپاره گټورې پایلې درلودلای شي.

اسلامي نظام چې د اسلامي اصولو پر بنسټ ولاړ دی، د ټولنیز عدالت، عامه هوساینې تأمین او د هیواد د اقتصادي ودې، پرمختیا، ثبات او داسې نور مسؤلیتونه پر غاړه لري، همدارنگه د اسلام اقتصادي نظام بنسټیز اصول په ټولنیزه او اقتصادي عدالت، ملکیت او مالکیت، اقتصادي گټورتیا، د سود او غرر نشتوالی، زکات او ټولنیز تکافل پر بنسټ ولاړ دي، چې د ټولنې هر وگړی باید یکښې عادلانه مالي فرصتونه ولري، اقتصادي منابع د ټولنې د سوکالۍ لپاره وکارول شي او د فقر د له منځه وړلو لپاره عملي گامونه واخیستل شي، د اسلام د اقتصادي نظام مسؤلیتونه یوازې د مالي ثبات پر بنسټ نه، بلکې د

اقتصادي اخلاقو، سوداګریز صداقت او ټولنیز عدالت پر اساس تنظیمیږي. د دې ترڅنګ د اســلام اقتصــادي نظام، د احتکار او ســود مخنیوی کوي ترڅو اقتصــادي عدالت تأمین شي او ټولنه د اوږد مهاله ثبات پر لور روانه شي. دا چې په نورو اقتصادي نظامونو کې سودي بانکوالي یو مهم کلیدي عنصر ګڼل کیږي، همدارنګه د اســلام په اقتصــادي نظامونو کې هم اســلامي بانکوالي یو مهم کلیدي عنصر ګڼل کیږي او په دې برخه کې خورا ارزښتمن رول لوبوي.

په معاصر اقتصادي نظام کې اسلامي بانکوالي د هر هیواد د مالي ثبات، اقتصادي ودې، او پانګونې د مدیریت مهمه وسیله ده.اسلامي بانکوالي د دې سکتور مهمه برخه تشکیلوي.

د اسلامي بانکوالۍ بنسټ په شرعي اصولو او احکامو ولاړ دی چې موخه یې د اقتصــادي عدالت تأمینول او د ربا (ســود) غرر او د نامشرــوعو معاملاتو مخنیوی دی. اســلامي بانکوالي داســې یو مالي ســیســتم دی چې نه یوازې د افرادو مالي ســوکالي ته وده ورکوي بلکې ټولنیز عدالت ته هم زمینه برابروي. اســلامي بانکوالي د پانګه والو، ســوداګرو او عامو خلکو لپاره مالي فرصــتونه برابروي او د سودي بانکوالۍ لپاره اسلامي بدیل دی، چې له یوه اړخه اسلامي اصولو ته ژمن دی او له بل پلوه د اقتصادي ثبات لپاره ګټور دی.

د اســلامي بانک د نورو ځانګړتیاوو ترڅنګ، یوه خاصــه ځانګړتیا دا ده چې د شرعي اصـولو پر بنسـټ مالي خدمات وړاندي کوي چې پکښــې سـود او احتکار ته ځای نشته، بلکې د اسلامي بانکي محصولاتو لکه: د مضاربت، مشارکت، مرابحې، اجارې، سلم، استصناع او داسې نورو محصولاتو پر بنسټ د پانګونې زمینه او کاري فرصتونه برابروي او پایله کې اقتصادي ودې پرمختیا ته لاره هواروي.

دا چې افغانسـتان يو اسـلامي هيواد دی، اسـلامي نظام پکښــې حاکم دی او اسلامي اقتصاد د اصولو پلي کولو ته ځانګړی اهميت ورکوي، له دی امله د اسلامي اقتصاد د ا صولو پلي کول او پراختيا د دې نظام او ملت يوه ا ساسي غوښتنه ده او د هيواد اکثريت وګړي د يادو اصــولو تطبيق ته ژمن دي. بناءً د افغانســـتان بانک د اســـلامي بانکوالۍ ترويج، پلي کولو، ودې او پراختيا لپاره عملي ګامونه پورته کړي دي؛ له هغې جملې څخه د هيواد د بانکونو بشـــپړ اســـلامي کولو ته زمينه برابرول، ا سلامي بانکي محصولاتو پراختيا، له ا سلامي ا صولو سره سم د چارچوکاټ رامنځته کول، د بانکوالۍ په برخه کې د عامه پوهاوي او مالي ســواد کچه لوړول، د اړينو آسانتياوو برابرول او داسې نورې چارې شاملې دي.

اوس مهال ا سلامي بانکوالي په نړۍ واله کچه د سودي بانکوالۍ يو مهم او غوره بديل ګرځيدلی چې ورځ تر بلې د پراختيا او ترويج په حال کې ده، همدارنګه اسـلامي مالي خدماتو ته دنړيوالو مالي مؤسـسـاتو، مرکزي بانکونو او پانګه والو پاملرنه زياته شوې ده، ځکه چې د مالي کړکيچونو پر وړاندې د خپل ځانګړي ماهيت له مخې خاص مقاومت لري، پانګه والو ته ربښـــتينی ډاډ او اطمينان ورکوي او په پايله کې متوازنه اقتصادي وده او پرمختيا تضمينوي.

د اســـلامي امارت له حاکميدو وروســـته، د افغانســـتان بانک له لوري، د اسـلامي بانکوالۍ ترويج، پراختيا او پرمختګ ته پوره پاملرنه شـوې، چې په دې برخه کې يې د علومو ا کاډمۍ محترم رياســـت سره، په همغږۍ د اســـلامي بانکوالۍ د ودې او پراختيا لپاره د شريعت مطابق، د بانکونو بشپړ اسلامي کولو ته زمينه برابره کړې ده، چې د قوانينو مقرراتو، اســـلامي بانکي محصـــولاتو او پاليسيو د تصويب، تعديل او ترتيب چارې د نهايي کيدو په حال کې دي.

همداراز صکوک د اسلام په اقتصادي نظام او په ځانګړې توګه د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې یوه اړینه مالي وسیله ده، ځانګړې اهمیت لري او د هغې په مؤثر تطبیق سره د مالي منابعو تنوع د عام المنفعة پروژو تمویل، پراختیا، کار موندنې او د اســـلامي مالي بازارونو د رامنځته کیدو زمینه برابروي، چې په دې موخه د افغانســـتان بانک د مالیې قدرمن وزارت سره په ګډه همکارۍ د صـــکوکو د قانون ترتیب، طی مراحل او د تصـــویب او منظورۍ لپاره یې امیر المومنین حفظه الله د قدر وړ دفتر ته استول شوی دی.

همدارنګه، د ســـترې محکمې د پریکړې او د افغانســـتان بانک د عامل پلاوي، د تصویب له مخې د امانتونو د بیمې هغه فیسونه، چې د تیرو ۱٦ کلونو په جریـان کې لـه بـانکونو څخـه اخیســـتـل شـــوي وو، پـه ټولیز ډول (۲،۸۸٦،۸٦٦،٦۳۵) افغانۍ (۱۴،۳۲۰،۷٦۳) امریکایي ډالر او (۳٦۲،۸۳۷) یورو بېرته بانکونو ته مســترد شــوي دي، چې یاد اقدام د افغانســـتان د بانکي سکتور، تاریخ کې یو بې سارې اقدام دی او د اسلامي مالي اصولو تطبیق او د اسلامي بانکوالۍ ترویج ته د افغانستان بانک ژمنتیا ثابتوي.

د افغانستان بانک د علومو اکاډمۍ له خوا، د دې علمي او څېړنیز سمینار د دائرولو دا اقدام ستایي او باور لري، که چېرې دا لړۍ همداسې دوام وومي، نو دا به داسلامي بانکوالۍ د ترویج، ودې او لا پرمختګ لپاره لاره هواره کړي.

د افغانســـتان بانک هر وخت ژمن دی، چې اســـلامي بانکوالۍ ته لا زیاته وده ورکړي او په دې برخه کې د عامه پوهاوي، د اسلامي بانکي محصولاتو له لارې داخلي او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې اړوند، اړین خدمات او اسانتیاوې وړاندې کړي.

ومن الله التوفیق

# د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق پیغام

رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي يَفْقَهُوا قَوْلِي.

جلالتماب شـــیخ الحدیث مولوي صـــاحب فریدالدین محمود د علومو اکاډمۍ عمومي رئیس او د افغانســـتان اســـلامي امارت درنو مشرـــانو او معززو حضارو، چې په دې با عظمته سیمینار کې ګډون لرئ.

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

دا زما لپاره لوی ویاړ دی چې د افغانستان د خصوصي سکتور له ستري ټولني استازیتوب کوم چې د هېواد د اقتصادي ماشین د فعال ساتلو مسؤولیت لري. دا سکتور د تولید نه تر وارداتو له کرنې نه تر استخراج د هېواد دننه او بهر په بېلابېلو برخو کې کار کوي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق ویاړ لري چې له تېرو ۹۰ کلونو راهیسې یي دا ملي او اسلامي مسؤولیت په صادقانه او هېواد پالنه توګه ترسره کړی دی.

د دې سیمینار موضوع چې **د اسلامي اقتصادي نظام مسوولیتونو** تر سرلیک لاندې ده، د خصـــوصي ســـکتور او په ځانګړې توګه د افغانســـتان د ســـوداګرۍ او پانګونې اتاق سره په مســـتقیمه توګه تړاو لري. زه په پوره باور سره تاســـو ته دا ویلای شـــم چې د نوي تحول وروســـته اتاق د هېواد د اقتصـــادي ســـکتور د یوه سرتېري په توګه د متدین ملت او د افغانســـتان اســـلامي امارت ترڅنګ ولاړ و.

اتاق د هغو ورځو په جریان کې چې ستونزي وي د خلکو د لومړنیو اړتیاوو

لکه اوړه، غنم، غوړي، درمل کرنیزو، صنعتي محصولاتو او د معادنو استخراج، د افغاني اسعارو د ارزښت ساتلو او د نړیوالو اقتصادي اړیکو ټینګولو په برخه کې مهم رول لوبولی.

همدارنګه اتاق د بهرنیو هېوادونو له سوداګریزو بنسټونو سره د قراردادونو هوکړه لیکونو او موافقو د لاسلیکولو له لارې د افغانستان اقتصاد ته پراخ فرصتونه برابر کړي. دا ټولې هڅې د بهرنیو چارو وزارت، د صنعت او سوداګرۍ وزارت او اړوندو ادارو سره په همغږۍ ترسره شوي دي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق د خصوصي سکتور د استازي په توګه د کرنې میکانیزه کول، د کرنیزو محصولاتو معیاري کول، د کانونو استخراج، د صنعت وده او له بهرنیو هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو ټینګېدل، د هېواد د اقتصادي پرمختک لپاره ډېر مهم بولي.

خصوصي سکتور او د سوداګرۍ اتاق د اسلامي بانکدارۍ د نظام قوي ملاتړ کوي ځکه چې اوسني تحقیقات ښايي چې اسلامي بانکداري تر دودیزې بانکدارۍ خورا شفاف او عادلانه نظام دی. د همدې لپاره خصوصي سکتور د اسلامي بانکدارۍ د ودې او پراختیا لپاره خپلې هڅې جاري ساتي او دا د خپلو اساسي لومړیتوبونو څخه ګڼي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې اتاق او خصوصي سکتور ژمن دی چې د خپلو تېرو ۹۰ کلونو د زرین تاریخ په شان د هېواد له مظلوم ملت او د امارت اسلامي له نظام سره د رغنده نظریاتو، طرحو او وړاندیزونو له لارې مرسته وکړي.

موږ د افغانستان اسلامي امارت څخه محترمانه غوښتنه کوو، چې د هېواد

د اقتصــادي ماشــين د فعال ســاتلو لپاره د خصــوصي ســکتور ملاتړ ته دوام ورکړي، د دوی قانوني غوښــتنو ته توجه وکړي، ترڅو موږ يو پياوړی اقتصــاد، سوکاله هېواد او باعزته نظام ولرو.

و ما توفيقي إلا بالله